انجمن اجتماعی زحمتکشان افغانستان


۰۸ اگست ۲۰۱۲

## زيارکښان، د اتحاد سره کولای شولاي خلاصون ومومي

زيار کښان د ټولني هغه برخه ده چي د خپل مټ په زور يوه مړۍ ډوډۍ پيدا کوي. دوي دې خبرې ته هيڅ پام نه کوي چي مخي ته يی څوک ولاړ دی، سپين او که تور، هغوی يوازې خپل د مټ زور خرڅوي او يا په چيغو چيغو يو کيلو کچالان خرڅوي.

خو له بده مرغه په تيرو څو لسيزو کي زموږ د هېواد زيارکښان که بزګران دي او که دست فروشان، که مزدورکاران دي او که کارګران په بېلابيلو پلمو تيرويستل شوي. يو له هغه لارو او پلمو چي زوروکو تل تري ګټه پورته کړي، هغه ژبني او مليتي توپيرونه دي.

په نړۍ کي داسي يو هېواد هم نشته چي له يوه مليته جوړ وي او يا هم ټول خلک يي په يوه ژبه خبرې وکړي. آن د نړۍ هغه هېوادونه چي خلک فکر کوي يوازې يو مليت، يوه ژبه او يا يوازې يو دين به په کي وي، لکه هندوستان چي خلک فکر کوي يوازې هندوان به په کي ژوند کوي حال دا چي هندوستان د نړۍ دويم ستر اسلامي هېواد دي.

افغانستان هم داسي هېواد دی چي بېلابېل مليتونه په کي ژوند کوي او ګڼي ژبي په کي ويل کېږي. چا ويلي چي د يوه هېواد استوګني لکه د يوه ارکستر په شان دي چي که چېرې يوازې يوه آله په کي وغږول شي نو هيڅ خوند به په کي نه وي.

له بده مرغه حاکمانو تل له دغه مليتی او ژبني توپير څخه ناوړه ګټه پورته کړې ده او زموږ ولس يي د خپلو ګټو تر لاسه کولو لپاره د يو بل وينو ته تږي کړي دي. حال دا چي زموږ د اولس تر منځ هيڅکله هم داسي شخړې نه وې حتي تر دې پورې چي هزاره عبدالخالق دٓچرخيانوٓ د انتقام اخيستلو لپاره له خپل سر څخه تېر شو.

زموږ د ولس بې وزلي په دې ښه پوهيږي چي هغه کراچۍ والا يا کچالو خرڅونکی يي ملګري دي چي که يو يي له شماله دی او بل يي له جنوبه خو تر څنګ يي کار کوي نه هغهٓهم مليتهٓ چي د لنډ کروزر او رنجر موټر دوړې او خاورې يې پرې باديږي. هغوی ته هيڅ ارزښت نه لري چي تر څنګ يي له کوم مليته دی څکه دواړه خولې بهوي او د يو بل پر درد پوهيږي.